# زېری

د افغانستان د علومو اکاډمي

Academy of Sciences of Afghanistan

پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي


جهانونه څه لربنه دي
ته یې نه وینې نادانه
ګوره څو دي هسې ځمکې
ګوره څو هسې آسمانه
واړه ځای دي ستا په زړه کې
اې ترعرش لویه انسانه!

خوشحال خان خټک


چهارشنبه ▣ ۱ – ۲ مه ګڼه ▣ دریمه دوره ▣ پرله پسې ۲۴۹ – ۲۵۰ مه ګڼه ▣ ۱۳۹۵ لمریز کال د وري (حمل) ۲۵ مه ▣ ۱۴۳۷ هـ ق کال د رجب المرجب ۵ مه ▣ ۲۰۱۶ زیږدیز کال د اپریل ۱۳ مه


د خورا پېرزو کوونکي او لورونکي الله په نامه

## سرلیکنه

### د "زېري" زېری

د پښتو ژبې روزنه او پالنه، د ټولو هغو کسانو تاریخي مسوولیت او همیشنۍ دنده ده، چې له دې ژبې سره مینه لري، په هر ځای او هر وخت کې خبرې او لیکنه پرې کوي، بیا - بیا یې مطرح کوي او په هر ډګر کې یې، په زیاتیدونکې مینې او علاقمندۍ سره پالي او وده ورکوي.

له نېکه مرغه، په افغانستان کې، د کرکټ لوبې په پیل کېدو سره، د افغان کرکټرانو په منځ کې، د کرکټ په دوران کې، د اردو ژبې د (چوکې (Fours) او چکې (Sixes) اصطلاحات، ډېر اوربدل کېدل. د وخت په تېرېدو سره، ځوانانو دې ټکي ته پاملرنه وکړه، چې د هغو پر ځای، د پښتو ژبې خپل اصطلاحات (څلوریزه) او (شپږیزه) وکاروي. د دغو نویو او ښکلو اصطلاحاتو په بابېدو سره، نه یوازې د کرکټ ډګر تود او خوندور شو، بلکې له پښتو پرته یې، دري ته هم لار وموندله او اوس اوس، ډېر کله، د کرکټ په لوبو، د پښتو او دري تبصرې او کمینټرۍ په دوران کې، په خوند –خوند سره اورېدل کېږي او د درنو اورېدونکو او

## علامه اقبال او افغاني فکر

څېړندوی حبیب الله رفیع

علامه اقبال د نا وېشلي هندوستان لوی مفکر، پیاوړی شاعر، د اسلامي امت د آزادۍ منادي او د ویښتابه هادي دی، ده د نبوغ تر حده استعداد درلود او په فارسي او اردو کې یې ابتکاري، انتقادي، ویښوونکې، هڅوونکې، پاڅوونکې او انقلابي شاعري کړې ده. ده فارسي له کتابه زده کړې او له کتابي فارسي سره اشنا ؤ، چا چې ورسره کتلي وو، لکه علامه عبدالحی حبیبي، چې د افغانستان په سفر کې یې لیده کاته ورسره شوي وو، ویل یې چې په فارسي یې په ډېر تکلیف خبرې کولای شوی.

خو د شعر له پاره یې له فارسي نه په دومره قوت او صلابت کار اخیستی چې نه یوازې د فارسي له لویو شاعرانو وروسته پاتې نه دی، بلکې په خپلو اشعارو کې یې تر پخوا نوښتونه کړي، نوي مضامین او مطالب یې په خپل شعر کې ځای کړي او د انقلاب رسا شعارونه یې ورکړي دي.

ده د فارسي ادب ژوره مطالعه درلوده او په دې برخه کې یې د فکري تغذیې لویه منبع افغاني مفکرین او لویان دي، په دغه لړ کې مولانا جلال الدین محمد بلخي، سید جمال الدین افغاني او د

باز شوری در نهاد من فتاد

په دې ترتیب د علامه اقبال ټول کلیات د مولانا له شعر نه، شکلي جوړښت او سکښت او روحي پایښت اخلي.

**۲۔ علامه سید جمال الدین افغاني :**

ده په شاعرۍ کې د شرق د وېښوونکي، پاڅوونکي او هڅوونکي علامه سید جمال الدین افغان انقلابي افکار، چې هم یې په شرق کې له استبداد سره مبارزه کوله او هم له ښکېلاک سره، ځکه چې استبداد او ښکېلاک سره تړلي وو او ده غوښتل چې مسلمانان حتی ټول شرقیان له غربي ښکېلاک او کورني استبداد نه آزاد کړي.

علامه اقبال په خپله ټوله شاعرۍ کې د افغاني د افکارو درناوی کړی، هغه یې پاللي او په خپلو شعرونو کې یې را غبرګ کړي دي. دی د سید په باب وایي:

زندګاني نیست تکرار نفس
اصل او از حی و قیوم است و بس
قرب جان با آنکه ګفت انی قریب
از حیات جاوېدان بردن نصیب

...

اخیستی ؤ.

اته دېرش کاله مخکې په ۱۹۷۷ کال، په کابل کې د افغانستان راډیو په تالار کې د علامه اقبال نمانځغونډه جوړه شوې وه، پوهانو ده پر افکارو خبرې کولې او زما په مغز کې یوه ټوټه را وګرځېده او ده د فکر افغاني منابع مې پکې انځور کړل:

چې روحي جلال دې بیا موند له جلاله
چې فکري جمال دې واخیست له جماله
چې دې نبض د ملت زده کړ له خوشحاله
نو
د اقبال ستوری دې وځلېد اقباله

له افغاني مفکرینو سره ده فکري تړون له افغان ملت سره ده هیلې وتړلې او د مسلمانانو د آزادۍ له پاره یې، افغان ملت یوه مخه او موخه ؤ، نو ځکه یې اعلیحضرت امان الله خان ته خپلې ځانګړې غوښتنې، په خپلو اشعارو کې وړاندې کړې او د افغان نورو مړو او ژوندو ته یې درناوی او احترام درلود او دوی یې د بدلون او پاڅون مرکزونه ګڼل.

ده آسیا د خاورو او اوبو کالبوت باله او افغان ملت د هغه زړه. زه خپلې خبرې ده د همدې اشعارو په تشریحي ژباړه، چې څلوېښت کاله وړاندې مې کړې، ختموم:

له غور ځنګه یې لوېدلې وینه نه ده
په دنیا کې چې دی زړه نو همدا زړه دی
د آسیا د ژوندون مزی پرې تړلی

ليدونكو، غوږونو ته نوازش وركوي. له شك پرته، په پښتو ژبه كې، ددغو نويو اصطلاحاتو بابېدنه، نه يوازې د كركټ په ډګر كې، د يوې ځانګړې پاملرنې محصول او ثمره ده ،بلكې دا موږ ته ددې زېرى را كوي، چې د پښتو ژبې د ويلو او ليكلو ډګر، ورځ په ورځ، نور هم پراخېږي او اوس پښتو ژبه، له پښتنو پرته، د ټولو افغانانو د وينا او ليك ژبه شوې ده. له دې امله، موږ دې ته اړ يو، چې پښتو د ټولو له پاره اسانه او عامفهمه كړو.

څرنګه چې پښتو ژبه، يوازې په كلماتو او اصطلاحاتو نه، بلكې په خپلو جوړښتونو سره جوړېږي، نو په كار ده، چې په دوو نورو استقامتونو كې هم، د پښتو ژبې خپل جوړښت وكاروو. د نمونې په توګه: كه له يو چا پوښتنه وشي، چې كوم ځاى ته ځې، هغه وايي، مكروريان دو ته يا مكروريان سه ته يا مكروريان چهار يا پنج ته، د ژبې دا ډول دود سم نه دى، ښه به دا وي، چې كله يو څوك خبرې كوي، نو پوره پښتو جمله دې ووايي، په دې ډول: دويم مكروريان ته ځم، درېم مكروريان ته ځم، څلورم او يا پنځم مكروريان ته ځم. يا هم، كله نا كله داسې هم ليدل كېږي، يو څوك نور معلومات په پښتو دركوي، مګر د ټېليفون شمېرې په انګليسي، دري او يا هم اردو ژبو وايي. په كار خو دا ده او ښه هم دا ده، چې كله په پښتو خبرې كېږي، د ټېليفون شمېره دې هم، په پښتو وركړل شي، ځكه په پښتو كې، د دې ژبې د شمېرو خپل نومونه شته، هغه هيرول او د نورو ژبو استعمالول، يو ناسم دود دى او بايد ، په هر وخت او هر ځاى كې، د پښتو خپلې شمېرې او كلمات استعمال شي. د پښتو خپل كلمات، اصطلاحات او جوړښتونه، كه تر نورو ښايسته نه وي، بد رنګه خو ترې په هېڅ وجه نه دي. دا د پښتو ژبې يو پيدايشي حق هم دى، چې د ويلو په وخت كې دې، ددې ژبې د خپلو شمېرو، كلماتو او جملو استعمال ته زيات ه پاملرنه وشي. كه څه هم، موږ نه غواړو، چې د خلكو په خولو كې، پښتو اصلاح كړو، يوازې زموږ خبره د وړانديز تر بريده ده،ځكه هر څوك خپل ګټې ښاغلي.

په دې هيله، چې يو وخت، په بشپړه توګه، پښتو ژبه د دفتر او ديوان او د زده كړې په لوړو مركزونو (په ښوونيزو او پوهنتوني ډګرونو كې)، د تدريس او د علم او هنر د توليد ، انكشاف او ترويج ژبه شي او ددې ژبې ويناوال او حكومتي چارواكي، ليكوال او شاعران، دغو حياتي او ډېرو مهمو برخو ته هم، پوره -پوره پام واړوي او دغه خوږه ژبه، په هر ډول نوښتونو سره ونازوي، دغه ليكنه پاى ته رسوو !

پښتو لوى شاعر او مشر خوشحال خان ختټك يادولاى شو.

۱-مولانا جلال الدين محمد بلخي :

دى تر ټولو وړاندې مولانا جلال الدين محمد بلخي ته زيات درناوى او عقيدت لري، ګڼې مثنوي ګانې يې دده د مثنوي په قالب كې ويلې او ځاى پر ځاى يې، په خپلو اشعارو كې، دده پر افكارو او څرګندونو تكيه كړې او ده ته په دې درانه مقام قايل دى :

پير رومى مرشدِ روشنضمير
كاروان عشق و مَستى را امير
منزلش برتر ز ماه وآفتاب
خيمه را از كهكشان سازد طناب
نورِ قرآن در ميان سينه اش
جامِ جم شرمنده از آيينه اش
از نىِ آن نى نوازِ پاكزاد

مرد از توحيد لاهوتى شود
ملت از توحيد جبروتى شود
بايزيد و شبلى و بوذر از وست
امتان را طغرل و سنجر از وست
بى تجلى نيست آدم را ثبات
جلوه ماه فرد و ملت را حيات
هر دو از توحيد مى گيرد كمال
زندگى اين را جلال،آن را جمال
اين سليمانى است ان سلمانى است
آن سراپا فقر و اين سلطانى است
آن يكى را بيند آن گردد يكى
درجهان با آن نشين با اين بزى

۳ خوشحال خان ختټك :

ده خوشحال خان ختټك حكيم ملت افغانيان باله او دده هغه شعرونه چې تر دې وخته په انګريزي كې ژباړل شوي وو، ده لوستي او الهام يې ترې

د افغان ښكلى هېواد د آسيا زړه دى
...
لا تر اوسه هېڅ نه دى لړزولى
په دې زړه كې د غيرت وينه چلېږي
نه له چا څخه ډارېږي نه لړزېږي
د غيرت ميدان چې وينې لا مستېږي
...
د پردو د ككرو دانې دل شوې
اوره شوي دي په دې زړه د آسيا كې
چې راغلي پر ته نه دي ځنې تللي
دانې هم روغې پاتېږي په آسيا كې؟
...
آسيا تش كالبوت د خاورو او اوبو دى
خو دا زړه دى وبخښلى بې چې ساده
د خپلواك ژوندون نعمت يې پرې پيرزو كړ
په رښتيا چې پر دې زړه ژوندى آسيا ده

# زرغون لښتى

اسد الله غضنفر

په غير درسي كتابونو كې مې لومړنى كتاب چې په ژوند كې ولوست، ( ملي هينداره ) و. د ملي هيندارې دې نارې تر بلې هرې يوې ډېر اثر راباندې وكړ او عجبه دا ده چې د وخت په تېرېدو سره يې اغېز كم شوى نه دى:

كه بهېږي يو زرغون لښتى بهېږي
دغه سرې د ادم پر باغ لګېږي
پرې كرلي يې لونګ دي لويه خدايه
لاچې هم پرې زرغونېږي، زرغونېږي

يو لښتى چې د ونو او بوټو د زرغونو پاڼو سيورې يې روڼې اوبه زرغونې كړې دي، د يو باغ په لور بهېږي. دا ښايسته منظره ده او په عين حال كې مرموزه منظره ده، ځكه د بې شمېرو ونو، غنو، بوټو په منځ كې وياله چې يو بل مرموز ځاى يعنې باغ ته رسېږي، هم د پناه او خونديتوب خوندور احساس راكوي او هم مو تخييل پاروي. په دې ونو، بوټو او اوبو كې به څه رازونه وي؟ كومې مېوې؟ كومې حشرې؟ كوم عطرونه؟...

دا هغه تصور او احساس دى چې د ذكر شوې نارې په باب په ماشومتوب كې راسره وو او اوس هم راسره شته، خو د وخت په تېرېدو سره مې په نظر كې دا فرق راغلى دى چې اوس په اوبو كې لا لوى راز او سمبوليزم وينم.

د لرغوني مصر، هند او بين النهرين د خلكو په باورونو كې اوبه سپېڅلې او له رازونو مالامالې دي. د زردشتي عقيدو يوه مهمه الهه ( اناهيتا ) د اوبو رب النوعه او ساتندويه بلل شوې ده. ابوريحان البيروني وايي چې په هند كې يې داسې فرقه وليده چې د اوبو لمانځنه يې كوله. د بين النهرين خلكو عقيده لرله چې اول په دنيا كې يوازې اوبه وې او بيا په اوبو كې ځمكې، اسمانونه او بنيادمان پيدا شول. اوبو ته د ژوند او خلقت د ابتدا او منشا په حيث په نورو عقيدو كې هم اشارې شوې دي. زموږ په كلچر كې اوبه د ژوند او رڼايي نښه ده. يو څوك چې په لرې سفر روانېږي د كور كسان يې اوبه ورپسې پاشي او په دې ډول د هغه د ژوند او نېكمرغۍ ارزو كوي. د مسلمانانو په رواياتو كې يوه چينه ده چې كه هر څوك په كې ولامبي يا يې اوبه وڅښي، همېشنى ژوند به يې په نصيب شي. دغه چينه په تياره او ظلماتو كې واقع ده. سكندر ورپسې ډېر وګرځېد، خو پيدا يې نه كړه مګر خضر هغه څوك دى چې د دې چينې اوبه يې څښلې او تلپاتې ژوند يې په نصيب شوى دى. دغه چينه د حيات، آب حيات يا خضر په نومونو ياده شوې ده. د كابل د شهداى صالحين د مقبرې لويديځ لور ته په غره كې يوه چينه ده چې خضرې يې بولي. چينه په يوه سمڅه كې ده. د سمڅې په خوله كې د غره تېرې سره ورغلې دي. زه چې دوه كاله پخوا په دې چينې پسې غره ته وختم او د چينې له تنګې خولې تېرېدم، داسې وېره راپيدا شوه لكه په خوب كې چې بنيادم له يوه تنګ ځايه وېرېږي او په كې بندېږي. خضر له زحمتونو وروسته چينې ته ورسېد. ګمان كوم كه د چينې خوله تنګه او د ظلماتو غوندې وېروونكې نه واى، نوم به يې خضر نه و. خضر چې د تلپاتې حقيقت د چينې اوبه يې څښلي دي، په عرفاني تصور كې د مرشد مقام لري. په عرفاني ادب كې د حيات د اوبو له څښلو څخه مقصد د پاكې مينې او محبت لرل دي. په اساطيري او لرغونو باورونو كې اوبه د ژوند او مينې د سمبول په توګه راغلي دي.

د دې لنډۍ تاثير ځكه زيات دى چې له سپوږمۍ (= د هدايت رڼا ، مرشد ، معشوقه) او سيند (= عشق، د مينې تجربه، د سلوك لاره) څخه يې سبموليكې معناوې اخستلاى شو:

سپوږمۍ په غره راپورته كېږه
چې مسافر په سيند ګډېږي، ډوب به شينه

اوبه د ژوند ، مينې ، شهوت، ښېرازۍ او ښكلا د سمبول په حيث په ادبي آثارو او اساطيرو كې بيا بيا راغلي دي او اروا پوهانو منلې ده چې اوبه په خوبونو او لاشعور كې هم ذكر شوې سبموليكې معناوې لري. كله چې موږ د اوبو رمزي معناوې په نظر كې ولرو، نه يوازې د ادم او درخانۍ د نكل د پاسنۍ نارې پټ او مرموز مفهوم ته ورنژدې كېږو، بلكې په ګڼو نكلونو، بيتونو، لنډيو، اساطيرو او ادبي آثارو كې د اوبو لا ژورې او مرموزې معنى ته رسېدل راته اسانېږي. د درخانۍ د دې نارې معنى او مرموزه ښكلا هم هغه وخت ښه احساسولاى شو چې د اوبو سمبوليزم په نظر كې ولرو:

زه درخو يم درته وايم چې اوبه وينم بېرېږم
د ادم له مستې مينې په ناياب درياب ګډېږم

زه د دې لاندې لنډۍ په معنى نه پوهېږم او ګمان كوم چې د نه پوهېدا يوه وجه يې د اوبو په كلمه كې نغښتى رمز دى:

يو ځلې تېر شوې بيا راتېر شوې
لا ر دې ژوره كړه اوبه راستنوينه

# له یو صابر او شاکر انسان سره لومړنی او وروستنی ملاقات

## د څېړنپوه عبدالله بختاني خدمتګار د خاطراتو له دفتر څخه

په ننګرهار کې په خپل کوروکلي کې اوسېدم. د مشرقی ولایت د مطبوعاتو مدیریت پورې مربوط د مامورینو د پښتو کورسونو ښوونکی وم. کله نا کله، په تېره بیا د هېواد داستقلال د نما نځلو د جشن په ورځو (د سنبلې لومړنی شپږ ورځې) به مې هڅه کوله چې ضرور کابل ته ځان ورسوم.

د ویښ زلمیانو د حزب تر تاسیس (۱۳۲۵هـ ش) وروسته د ملګرو د لیدو او بیا په غونډو کې یې د برخې اخستو لپاره ضرور را تلم.

د جشن تر ورځو د مخه او وروسته، یو یا څو ځله پښتو ټولنې ته تلم. یو ځل چې ولاړم او د پښتو ټولنې یو دفتر ته ننوتم. هلته تر د وو درېو تنو مسلکي غړو سربېره یو بل شخص هم ناست و، یو خوار جامه خوارکی مشر چې د لنډې ږیرې سپین تر تورو زیات وو، کښېناستم...

یو ملګري وویل: بختانی صاحب دا جناب به پېژنې؟ دا نوري صاحب دی؟ ما پوښتنه وکړه: ((د ملي هینداري)) لیکوال؟

هغه وویل: هو!

زه ور پاڅېدم. غوښتل مې چې د غېږې روغبړ ورسره وکړم.

هغه پاڅید او ژړېږې وویل: بختانی صاحب مه را نژدې کېږه! زه په والګي (رېزش) اخته یم. نه چې...

زه کښېنا ستم و مې ویل؛ نوري صاحب څنګه یاست؟

هغه وویل: شکر الحمدلله.. او دې سره سمدستي هغه څو واری وپرنجید، و ټوخېد، له ستر ګویې اوښکې او له پوزې څخه یې رېږې او به څڅېدلې...

چې کښېناست او آرام شو. ما ته یې مخ واړاوه او و یې ویل:

بختاني صاحب! څه وکړو؟ دا مې حال دی. بی له دې چاره نشته.

- ګړنګ مو بهېږي او د پښتو خدمت کوو!

د علم او ادب د خدمت په لاره کې د همت په باب د نوري صاحب دا خبره را ته یو درس شو، له نوری صاحب سره په ژوند کښې تردې لومړني او وروستني ملاقات د مخه، ما ((ملي هینداره)) لوستې وه. ښه سات مې ورسره تېرو، د سات تېرۍ وسیله مې ګڼله او د ځوانۍ او بیا دویښ زلمی توب تر تودو احساساتو لاندې یوائې دومره ورته خوشحاله وم چې ځه! هر څه چې ده، د پښتو ادب په آثارو کې یوه زیاتونه خو وشوه!!

ورو ورو ایسته را ایسته زما د مطالعې ساحه پراخېدله، د اولسي شفاهي ادبیاتو اهمیت او ارزښت څه ناڅه را ته څرګند ېده او د ملي هینداري د کیسو اهمیت زما په نظر زیا تېده.

کله چه بهرنۍ نړۍ ته په یو تحصیلي سفر ولاړم. هلته په درسي پروګرام کې، د ګالېریو په لیدو کتو، په کنفرانسو نو او راډیو تلویزیوني خپرونو کې د فولکلوري موادو، کیسو او شفاهي ادبیاتو په مطالعو، ان د درسي موادو په لوستو سرمې خلاص شو او د موضوع ارزښتمنۍ ته لا متوجه شوم.

هلته و پوهېدم چې د فولکلور پېژندنې، فولکلور ټولونې او فولکلور څېړنې لپاره د پراخ او ژور کار او پروګرام علمي څېړنیز مرکزونه کار او فعالیت کوي او زیات مصرفونه کېږي.

و پوهېدم چې دا هسې خوشې چټي خبرې نه دي، بلکه د یو ملت او جامعې د مدنیت د تاریخي پېژند نې لپاره ډېرې ارزښتمنې هڅې دي. هلته به ((ملي هنیداره)) را یادېد له او د خاطرو د تداعۍ په لوحه کې به مې په غټو غټو تورو راته تر سترګو ستر ګو کېدله او له ځانه سره به مې ویل:

آفرین شه په هغه چې دوا لګي د سختې ناروغۍ په مهال هم ((د پښتو په خدمت)) بوخت و.

دغسې آثارېې لیکل.

او دا زما نېکمرغي وه، چې زما (خدمتګار) د تقدیر په کرښه

د دغسې یو ښاغلي سره، د لومړني او وروستني ملاقات امکان لیکلی و،

دا هم غنیمت دی!

روح دې یې ښادوي!

د ۱۳۹۵د ثور ۲۲مه

# د تلليو ياد

✎ څېړنپوه سيد محی الدين هاشمي

دا هنر نه دی چې خاورې څوک سره زر کا

چې زر خاورې کا (رحمانه) هنر دادی

رحمان بابا

هو، همداسې یو هنروال یادوم، چې زر یې خاورې کول، ددې له پاره چې ادبي نوم یې ابدي او تلپاتې شي!

ربښتیا هم داسې هنر یې زده و، چې زموږ بابا یې نږدې څلورسوه کاله د مخه یادونه او ستاینه کړې. خپل ګټلي زراو "پانګه" یې د پوهې، فرهنګ د ودې او خلکو ته د خیر ښېګڼو چارو او چوپړ په لاره کې، په خلاص مټ لګول.

په خپله هم شاعر او لیکوال و، آثار یې وپنځول، ولیکل، د چاپ په ګاڼه یې وپسولل او د نورو یې هم په مالي لګښت او پانګه د چاپ ډګر ته راووېستل، نمانځغونډې، څېړنغونډې، یادغونډې او مشاعرې یې په مادي لګښتونو او عملي هلو ځلو جوړې شوې.

هغه، لکه ملي پانګه وال اروابښاد زابلی، په دې راز پوهېدلی و، چې یوائې پانګه لرل، څوک نېکمرغه کولی او نوم یې تلپاتې کولی نه شي. عبدالمجید زابلی، چې اووه اتېلسیزې د مخه لومړی ځل په دولتي کچه د ملي بانک بنسټګر شو، ادیبانو (شاعرانو او لیکوالو) ته یې، له خپلې ځانګړې پانګې ادبي، فرهنګي او مطبوعاتي جایزې ومنلې او د خلکو د سوکالۍ او خیر ښېګڼې له پاره یې پانګونې وکړې، نو ځکه یې نوم ادبي او ابدي شو. که نه نو نور پانګه وال مو هم درلودل، نن د چا یاد هم نه دي او هم هغه زموږ د ملي شاعر اروابښاد ملنګ جان په وینا:

"کوم سرمایه دار چېرته یاد شوی د پیسو په نوم

یا چې تر قیامته نارینتوب د یو ملنګ لاړ شي

مینې د وطن سره!"

چې د زابلي په پله روان شو، نو ځکه یې ادبي او ابدي تلپاتې نوم هم په برخه شو.

اروابښاد محمد حسن (حسام) یادوم، چې د کونړ و د دنګو غرونو د لمنې د مزار درې په نورګل کې یې د سید کریم په کور کې سترګې غړولې وې. په ۱۳۳۱ لمریز کال یې، لومړنۍ زده کړې یې په خصوصي او رسمي توګه له علماوو، د نورګل او مزار په ښوونځیو او بیا د ننګرهار په عالي دارالمعلمین کې، د ژبو په څانګه کې بشپړې کړې وې. پوره لس کاله، کله د سرښوونکي او کله بیا د مدیر او پلټونکي په توګه، د پوهنې وزارت په چوکاټ کې، د هېواد دبچیانو په ښوونه او روزنه بوخت و (۱۳۵۱-۱۳۶۱ لمریز). څو کاله د قومونو او قبایلو چارو وزارت په خپرنیزو او څېړنیزو څانګو کې د غړي، د تشریفاتو مدیر، مرستیال او رئیس په توګه دنده ترسره کړه او بیا یې (له ۱۳۷۱ لمریز کال راوروسته) د شعر او ادب د بې کچې مینې په پاللو سربېره، د یوه ملي پانګه وال په توګه، هېواد او خلکو ته په چوپړ بوخت شو. په فرهنګي ډګر کې یې، په پښتو او پشه یې ژبو نظم او نثر تر لسو زیات آثار د (زه کابل یم، سپینې وینې، سرخلاصي لیکونه، یوه شپه دوه خوبونه، د شلمې پېړۍ انساني دلالان، اشیل، یو خوب دوه انځوره، څار او د پشه یې شعرونو ټولګې د (اوړا پرنګی او تارینا لوشه) په نومونو چاپ او مقالې یې په خپرونو کې خپرې کړې، د "پرون" په نوم یې ادبي، ټولنیزه او تاریخي مجله هم په خپل نوښت او لګښت خپره او د مطبوعاتو په اسمان کې وځلوله. د افغانستان قلم ټولنې د افتخاري رئیس او غړي په توګه یې، فرهنګي چوپړونه هم وکړل او ترڅنګ یې، د یوه ملي پانګه وال په توګه، هېواد او خلکو ته د خیر ښېګڼې ډېرې چارې ترسره کړې. بالاخره دغه فرهنګپال او ملي پانګه وال، د ۱۳۹۳ لمریز کال، د کب (حوت) میاشتې په ۲۴ نېټه، له دې دنیا سترګې پټې کړې.

اروا دې یې ښاده او نوم دې یې یاد وي!

# په پښتو لنډیو کې د پسرلي نښې

څېړندوی عبدالاحد منګل

په علامه د سپرلي پوه شوم
پېغلې ښکاره شوې لکه لمر په دېوالونه
جانان سپرلی دواړه همزولي
ګل په سپرلي زه په جانان اباده یمه

پسرلی، د ښکلا، مینې، محبت، مهربانۍ او زړه سواندۍ سمبول موسم دی، چې د پښتو ژبې په ادبیاتو کې، هغه که ولسي دي یا دیواني ښه انعکاس لري. دغه د پسرلي موسم د پښتو په ولسي او لیکنیو ادبیاتو کې یو ځانګړی مقام لري، پسرلي دغه مقام، د خپل حسن او لطافت په نتیجه کې ترلاسه کړی او په هنري ادبیاتو کې د یوه سمبول په توګه کارول کېږي. بل دا چې، پسرلی په خپله غېږ کې زیاتې داسې نښې لري، چې هغه ټولې د سمبولونو، یوه لویه ټولګه او لړۍ جوړوي، دغه سمبولیکه لړۍ او نښې نښانې، د تشبیهاتو او استعارو په چوکاټ کې، په بېلابېلو بڼو استعمال شوي او استعمالېږي، چې د کلام هنري ظرافت او لطافت، د ښکلا په تول برابروي، لکه دغه لنډۍ:

مخ دې ګلاب، سترګې نرګس دي
دا تور زلفو دې سنبل و شرماونه
ګل د غا ټول را ځخه ورک دی
په پسرلي کې لټوم د ښتې خوړونه

پسرلی په طبیعت کې، د بدلون نوم دی، کله چې څوک د پسرلي نوم اخلي یا یې اوري، یوناځاپه (ناخوداګاه) یې، فکر ته د طبیعت بدلون، ښکلا، بڼ او باغ، ګل، بورا، بلبل، د اوبو رواني ویالې، شنه غرونه، رغونه او لاښونه، شبنم، وریځې، باران، د پېغلو او زلمو مېلې او د چاپېریال بېلابېلې ښکلاګانې او نورې هغه ځانګړنې او اوصاف، چې د انسان ذهن او زړه ته سکون ورکوي او د ښکلا تنده یې پرې ماتېږي لري، چې په دې لنډۍ کې یې انځور ګورو:

د سپرلي بیا نخښې ښکاره شوې
نوی شبنم، توري وریځې، زیړ ګلونه
باغوانه باغ ته جلی پرېږده
د زېړو ګلو امېلونه جوړوینه
په علامه د سپرلي پوه شوم
پېغلو ټومبلي دي په زلفو کښې ګلونه
په علامه د سپرلي پوه شوم
ځلمي په سر د پولو ږدي لنډ قدمونه
د پسرلي علامې راغلې
په هره پوله کې بنګړي مات شوي دینه

پسرلی له مسیحی سره هم تشبیه شوی دی، ځکه چې په پسرلي کې نباتات او مړژوانده ژوي بیا را ژوندي کېږي، ټول موسمي نباتات را زرغونېږي، ملیار په بڼ کې بېلابېل ګلان کري، ګل پلورونکی، د ګلونو خرڅلاو ته ځان تیاروي، چاپېریال ټول خوشبویه او عطرین وي، مچۍ د ګلو پر سر ګرځي، د ګبین پیاځې له شاتو ډکوي، میېریان کتار کتار روان وي غلې دانې را ټولوي... دا ټول هغه څه دي، چې پسرلي ته یې د مسیحی نوم ورکړی، لکه په دې لنډیو کې، چې لیدل کېږي:

د پسرلي مسیحی راغی
خدای به زرغون کړي د وطن سمې ډاګونه
د ملیار باغ خزان تالا کړ
سپرلی د ګلو مسیحی دی را به شینه
زما د زړه مسیحی ته یې
لکه سپرلی چې د غا ټول مسیحی وینه

لکه څنګه مو چې مخکې وویل، پسرلی د طبیعت هغه مسیحی دی، چې په هر څه کې، نوې ساه پوه کوي، ژوندي موجود ته د کړوړو، هوساینې او پرمختګ زېری ورکوي، په ځانګړې توګه انسانانو ته، که د نوې ټکنالوژیک پرمختګ پوښتنه وړاندې نه کړو او را روان ټولنیز ژوند ته په ځیر کتنه و نه کړو، په ځانګړې توګه، د خپلې ټولنې کلیوالي ژوند ته په نوي نظر و نه ګورو، دا به ښه نه وي. په پسرلي کې، چې نوی او تازه موسم راځي، ډېر څه بدلېږي. بزګر کر کیلې کوي، ختګر ختې کوي، کلالان کلالي کوي، ښځې کورنه پاکوي او نوی رنګ ورکوي، د کورکالي مینځې، هر ژوندی او ښورنده موجود په اړوندو چارو پیل کوي، نباتات زرغونېږي، غوټۍ کوي او ګل نیسي، ګلبوټې ګلان غوړوي، د ونو غوټۍ ګلان کوي، ګلان مېوې دانې کوي، د بزګر کرونده، ورو -ورو په حاصل راځي، تکه شنه او زرغونېږي، شپونکی خپلې رمې شنو ورشوګانو او د غرونو لمنو، څړځایونو او سردرو ته بیایي، کوچیان د پسرلي شنو څړځایونو ته کوچېږي، خپلو ایلبندونو ته کډې کوي... خو زه دلته یوازې په لنډیو کې، د پسرلي انځورګري په نښه کوم، له نورو خواوو سره یې کار نه لرم، د همدغو پورته څو ټکو د استناد له پاره، دغه لاندې لنډۍ وړاندې کوو، چې د تازه سپرلي په خوشبویه او عطرین موسم کې، د پسرلي د مینه والو او د پښتو شعر او ادب د خوښوونکو، موسمي، شعري او ادبي ذوق پرې خړوبه شي:

سپرلی به بیا په وطن راشي
ونې به شنې شي موږ به سیوري ته کینونه
اسمانه ښه باران پرې وکه
یارمې د للمې کر کوي چې زرغون شینه
او ربل دې جوړ په غنم لو کړو
زه خوار به لو کړم که به ستا دیدن کومه
جینۍ په باغ کې سره منه شوه
نادان باغوان یې په وریشو خرڅوینه
که خوله مې اخلې زرېږې واخله
ګنې د چنو لو ته ځم تروه به شینه

# د مورکۍ په قبر

سید فخرالدین هاشمي

په مصله دې موري خاوري پرتې
سجدې دې لاړلې تر عرشه پورې
ستا د لرګي اوږدې تسبې مورکې
ستا د لاسونو خوشبویي را شیندي
له تانه پاتې ها زړې چپلي
اوس کله یې په سترګو مښم
مورې! هدېرې ته راغلم، چیغې وهم
تندې مې ستا په قبر ایښې مورې
سلګۍ مې اورې او که نه مورکې
اوښکې مې وینې او که نه مورکې
زه دې بې رحمې دنیاګۍ ته پرېښوم
لکه یوه پانه دې سېلۍ ته پرېښوم
ستا د دعاوو رحمتونه لاړل
زما په حق کې دې سوالونه لاړل
ستا په زنګون به، زما سر مورکې
دومره ډاډه وم لکه غر مورکې
اوس دې ورکېږي د لاسونو نښې
ستا د سپېڅلو ارمانونو نښې
یوزوړ پوړنی دې را پاتې مورې
وخت مخ ته ځغلي او ته پاتې مورې
په تور لحد رانه فنا یې مورې
اوس سپېرو خاورو ته ښکلا یې مورې
هغه للو غږ دې اوس نه اورمه
اوس مې هم روح ته مشغولا یې مورې
نور دې له خاورو رخصتېږم مورې
له غم او درده دې لړزېږم مورې
ترخې زرغون په هدیره دې مورې
ډېرې ټولې په سجده دې مورې
شا ته راګورم ستا غېږونه اورم
که له ساړه باده اهونه اورم
ماتې لکړې او سپېره قبرونه
چو په چُپتیا او ټول ویده قبرونه
دلته زما د زړه ارمان مورکۍ
دلته مې ځمکه او اسمان مورکۍ
خاورې دې مښم په چشمان مورکۍ
یاد به دې تل وي جاویدان مورکۍ

# د "ژبساتنه" نومي کتاب منځپانګې ته کتنه

څېړنپوه مولاجان تنیوال (۳)

استاد رفیع په دغه کتاب کې، د مختلفو موضوعاتو د څېړنې په ترڅ کې، د سره کوتل او رباتک د ډبرلیکونو په خپلمنځي اړیکو باندې غږېدلی دی. د سره کوتل د ډبرلیک د پیدا کېدو او د هغه د تخنیکي ځانګړنو د پیدا کېدو ښودلو په خوا کې یې، دا هم ویلي دي، چې په دې ډبرلیک کې پنځه ویشت کرښې دي، چې هره کرښه یې، له پنځه ویشتو تر اته ویشتو پورې توري لري او ټول توري یې (۹۴۷) کېږي.

نوموړی د نورو ځرګندونو په خوا کې، دا یادونه هم کوي، چې د سره کوتل ډبرلیک ژبه، یوه اریایي ژبه وه، چې په یونانو – باختري لیک لیکل شوې وه.

موږ دلته د سره کوتل کتیبې د ژبې او د هغې د لیک په اړه څه نه وایو، خو که چېرې د همدغې کتیبې د کرښو کلمې او د هغو د تورو څېړنه، په علمي او دقیق ډول سره تر سره شي، کېدای شي چې دا پته ترې ولګېږي، چې له کومې اوسنۍ ژبې سره تر نورو ډېره ډېره لګوي. دا هم باید یاده کړو، چې ګرامري نیږدېوالی، د ژبو د خپلوۍ لوری په نخښه کوي. دا طبعي خبره ده، چې د سره کوتل د کتیبې کرښې به هم، له داسې ځانګړنو څخه تشې (خالي) نه وي. باید ووایو، چې استاد د سره کوتل ډبرلیک د ژبې د روښتیا په برخه کې، د پوهانو له لوري تر سره شوې څېړنې، د بېلګې په ډول په ښه توګه، د کتاب په متن کې خوندي کړې دي. تر دې وروسته، لیکوال د رباتک په ډبرلیک باندې رڼا اچولې ده او د هغه د پیدا کېدو او د کابل ملي موزیم ته د را رسولو کیسه یې هم نه ده هېره کړې. ده ویلي دي، چې د دواړو ډبرلیکونو لیک، یونانو – باختري دی، خو باختري ژبني عناصر او علایم په کې زیات شوي دي. د دواړو ډبرلیکونو د معرفۍ برخې (موضوعات) هم ښودل شوي دي او دا هغه څه دي، چې له موږ سره د یوه متن د محتوا په پېژندلو کې ښه مرسته کوي. موږ بیا هم وایو، چې که د دې ډبرلیکونو د منځپانګو د ښې جوتونې په برخه کې ژورې څېړنې وشي، زموږ د ژبو د پخو بنسټونو بڼه، اغېزه او لرغونتیا ترې څرګندېدای شي.

تر دې وروسته، د اثر د خروشتي ډبرلیکونو، د د ۱۳۳۸ کال په شاوخوا کې میسون انګریز د وردګو له خوات څخه، د لندن موزیم ته ولېږدوله. ځینې پوهان په دې اند دي، چې خروشتي کلمه، د آرامي له ((کروتهه)) کلمې څخه را وتلې، چې د توري معنا لري. د پښتو د کرښې کلمه هم، د کروشتې = خروشتې له کلمې سره ورته والی لري. موږ د لیکوال دغه نظر، چې د پښتو کرښه، له کروشتې او خروشتې سره ورته والی لري، بې ځایه نه بولو، ځکه اوس هم په ځینو پښتني سیمو کې کرښنیې، د یو څه لیکلو په معنا افاده کوي. ددې له پاره، چې د خروشتي لیک په اړه پوره معلومات ولرو، باید د متن لوستل هېر نه کړو. په دې پسې، په پښتو او پامیري ژبو کې د ((ځ، څ، ږ، ښ)) غږونه څېړل شوي دي. لومړی د پامیري ژبو په اړه خبرې شوې دي او ددې لړۍ ژبې یې په ګوته کړې دي، د پښتو د پیدایښت ځای یې ښودلی دی. د پښتو او پامیري ژبو (ځینو پامیري ژبو) د لغوي رېښو او بنسټونو ګډون او نیږدېوالی یې ښودلی او دا یې په ډاګه کړې ده، چې پامیري ژبې دوولس داسې فونیمونه لري، چې عربي ژبه یې نه لري، اته داسې فونیمونه په واک کې لري، چې دري ژبه یې نه لري او څلور فونیمونه یې داسې دي، چې هندي ژبه یې نه لري، خو پښتو دا دوولس فونیمونه ټول لري. له دې څخه، د پښتو او پامیري ژبو سیمه ییز نسبي تړون او د خپلوۍ د کچې پته، په ښه توګه جوتېږي. له دې وروسته، لیکوال (د (ځ، څ، ږ، ښ) غږونه، په پښتونخوا کې مطالعه کړي، د دوی مخرجونه یې ښودلي او په نورو ژبو، لکه اوېستا، عربي او دري کې یې په نښه کړي دي. ددې اوازونو د تورو لیکلې بڼې یې ښودلې دي. استاد دا موضوع، ډېره ښه څېړلې ده او په زړو اروپايي ژبو کې یې هم، مثالي بېلګې راوړې دي او د پښتو او پامیري ژبو هغه نږدېوالی یې جوت کړی، چې د هېواد او سیمې د نورو ژبو په نسبت ډېر زیات و.

په اړه، په اوېستا کې راغلې ده. په دې څېړنه کې د بست ښار او کلا په باب، فولکلوري روایات هم له پامه نه دي غورځول شوي، چې ددې ماڼۍ د واکمنانو نیاو او عدل په کې تر سترګو کېږي.

استاد په پښتو کې په نیولوګېزم او دهغه په تاریخچه، اصولو او اړتیا باندې ګټورې خبرې کړې دي او موضوع یې په تفصیل سره څېړلې ده. ددې برخې لوستل ځکه اړین دي، چې هغې ته په پاملرنې سره د خپل سرۍ مخه نیول کېدای شي. نوموړي په دې برخه کې اعتدال تر ټولو مهم بللی دی. استاد د خپلو څېړنو په بهیر کې، په پښتو کې د نوې نومونې مسئلې ته هم پام اړولی دی، چې په نومونو کې ډېر ځیرک واوسو او علمي اسلوب هماغسې وکاروو، چې بې زغمي را و نه زېږوي، ټولنه یې ومني او دا برخه یې په کرونولوژیک ډول را سپړلې ده.

په همدې موضوع پسې څېرمه، په هغو فعالیتونو، کړنو او لیکدود باندې خبرې شوې دي، چې وزیر محمد ګل خان مومند تر سره کړې دي. مخکې له دې نه، چې د مومند بابا په لیکدود او نورو فعالیتونو باندې رڼا واچوي، د پښتو لیکدود لړۍ یې، د اسلامي دورې له یوه روایت څخه را پیل کړې ده او تر پای پورې یې، په روانه ژبه څېړلې ده. هغه څوک چې د پښتو لیکدود په باب معلومات خپلوي، ښه دا ده، چې دغه اثر ولولي او په دې برخه کې خپله پوهه لا پسې زیاته کړي. ده د ښه پوهاوي او توپیرونو د پېژندلو په موخه، ځینې لیکدودونه په جدولونو کې راوړي دي. په همدې ډول، استاد د پښتو لیکلار سیمینار ته، چې په (۱۹۹۰ز.) کال کې، د پښتونخوا په باړه ګلۍ کې د افغانستان،

استاد د پښتو د لومړنۍ لیکنې لیکوال او ځای ځایګي په اړه هم، ارزښتناکه څېړنه کړې ده او لوستل یې، د نورو معلوماتو تر څنګ، د پښتو ژبې لرغونتوب هم نږیوالو ته په ګوته کوي. په همدې ډول، استاد د پښتو د چاپي آثارو او موضوعي شمېر څېړنه هم نه ده هېره کړې او په دې اړوند یې، په خپل کتابښود کې، د (۱۵۵۸) ټوکو کتابونو نومونه او ځانګړنې څرګندې کړې دي. دا یې هم ویلي دي، چې په دې برخه کې، ډېر کتابونه زما لاس ته نه دي راغلي، په ځاني او رسمي کتابتونونو کې یې څرک نه لګېږي او کېدای شي، چې ډېر به یې سهواً را څخه پاتې شوي وي. په دغه اثر کې، دا کتابونه، د نظم، نثر،

او نظم او نثر سره ګډ تر نومونو لاندې ډلبندي کړي دي، او په پای کې یې په ګرافونو کې ښودلي دي. د استاد دا کار، د پوره ستاینې وړ دی، ځکه چې، یو خو له څېړونکو سره د سرچینو په پیدا کولو کې مرسته کوي او بل دا چې، د هرې موضوع په برخه کې معلومات (که لږ وي یا ډېر) په کې خوندي وي. دا ډول سرچینې، د وخت د ضیاع مخه نیسي. له دې وروسته یې، د ریاض المحبت د قاموسي ګرامر په باب ښه لیکنه کړې، د هغه دوې برخې (مشتقات او متفرقات) یې ښودلي او د ګرامر او ژبپوهنې د کار د پیل وخت یې هم ښودلی دی. ده ددې اثر نیمګړتیاوې هم نه دي هېرې کړې. د خیبر په نامه د فرانسوي – پښتو قاموس ښېګڼې او نیمګړتیاوې یې، چې خلیل الله وفا راستین لیکلی دی، په څېړنیز ډول را برسېره کړې دي. دا لازمه بولو چې ووایو، د پښتو ژبې په اړه د استاد رفیع دا کتاب (ژبساتنه)، یو لوړ علمي کتاب دی، چې د پښتو ژبې په اړه تاریخي ارزښتمن مواد په کې خوندي دي او مطالعه کول یې، ډېر اړین دي.

## دادبي او فرهنګي خبرونو....

لوبغالي کې ترسره شوه او مینه والو یې له ستونزو پرته په کې ګډون وکړ. مشاعره د لیکوالې او شاعرې صفیه صدیقي د شعر په اورولو پیل شوه او وروسته د هېواد له لرا و بر سرېېره، له پښتونخوا رابلل شوو شاعرانو په زړه پورې شعرونه په کې واورول. د شاعرانو په شعرونو کې له هېواد سره د مینې، د سولې د ټینګښت، د ورورولۍ او زغم زده کړې پیغامونه نغښتي وو، چې د ګډونوالو له لوري په تودو ولولو بدرګه شول. د نارنج ګل شاوخوا دوه پنځوسمې دودیزې مشاعرې پای د یو شمېر ګډونوالو له لوري په ملي اتڼ ترسره کولو سره پای ته ورسېده.

### «خالص» فامیلیو کې نارنج ګل مشاعره وشوه

د پېښور ښمشتو "خالص بابا" فامیلیو کې په لومړي ځل د ځایي افغان اوسېدونکو او کډوالو په هڅو نارنج ګل مشاعره د وري په ۱۲ مه وشوه، چې د لروبر شاعرانو په ګډون سلګونو مینه والو په کې برخه واخیسته. په دې مشاعره کې د کوزې او برې پښتونخوا لسګونو شاعرانو، لیکوالانو او د ادب مینه والو خپل شعرونه، غزلې او منتخب کلامونه واورول. دا لومړی ځل دی، چې د خالص بابا کمپ کې د نارج ګل مشاعره کېږي. (سرچینه: نن ټکی آسیا وېبپاڼه)

### "د ژوند درس" سندرې کتاب در امنځ ته کولو په اړه ناسته وشوه

د کوچنیانو ملاتړ اداري او د پوهنې وزارت په ګډه سره (د ژوند درس سندرې) کتاب د جوړولو له پاره، د روان کال د وري په ۱۷ مه د افغانستان قلم ټولنې دفتر کې مشورتي ناسته وکړه. په دغې ناسته کې د ګویته انستیتوت، د کوچنیانو د ادبیاتو کور، د افغانستان قلم ټولنې او د علومو اکاډمي یو شمېر غړو ګډون کړی و. په دغې ناسته کې، د دغه کتاب د نامه په برخه کې خبرې وشوې. کېدای شي، د دغو شعرونو د غوراوي په برخه کې، نورې ناستې هم وشي او کمپوزنګ یې د فرهاد دریا له خوا ترسره شي.

هغو د څېړونکو په فعالیتونو او همدارنګه، د هغو سیمو په باره کې غږېدلی دی، چې دا ډبرلیکونه په کې پیداشوي دي. په دې اړه، له اوږدې لیکنې څخه څټ ته، استاد د خروشتي کلمې په باره کې ویلي دي، چې دا کلمه په اصل کې ((خروتهي)) وه، چې لا تر اوسه هم په پښتنو کې یوه قبیله د خروټي په نامه شته. د بوهلر په وینا، د هغه د مخترع نوم خروشته دی، چې په آرامي ژبه کې د لیکلو په معنا و، او وروسته په سانسکرېټ کې هم دود شوی دی. د کتاب مؤلف، ددې په څنګ کې، چې د خروشتي لیک د سوونو کتیبو اوسکو د لا ترلاسه کولو یادونه کوي، دا هم وایي، چې ډېر مهم متن یې هغه کتیبه ده، چې په لوی ډبرین لوښي لیکله شوې او

له دې وروسته، استاد لغوي څېړنه پیل کړې ده او ویلي یې دي، چې شاهزوی د پښتو لرغونې کلمه ده، چې څه کم یونیم زر کاله مخکې د روزګان په ډبرلیکونو کې د ((شاځوی)) په شکل راغلې ده. دی د شاهزوی کلمه،د دري د شاهپور له کلمې سره انډوله بولي او وایي چې،((پور)) د دواړو ژبو شریکه کلمه ده، چې مثالونه یې د پښتو د تربور او بوره په کلمو کې تر سترګو کېږي او د (پ) او (ب) ترمنځ ابدال په کې لیدل کېږي. (پ) او (ب) دواړه شونډیز اوازونه دي او ابدال په کې راتلی شي. استاد د شهزاده کلمه تر دا نورو کلمو وروسته (نوې) بولي. وروسته یې د کلمې لرغوني بڼې جوتې کړې او هغه یادونه یې هم راوړې ده، چې د هلمند

پښتونخوا او بلوچستان د پوهانو په ګډون جوړ شوی و، د بېلابېلو موضوعاتو او واحد لیکدود په اړه علمي څرګندونې کړې او د سیمینار د منلیو پریکړو یادونه یې هم کړې ده. زموږ په فکر، که دې یادونو او څرګندونو ته پام وکړو، نو زموږ د لیکوالو ترمنځ ستونزې به را کمې او ورکې شي. له متفقو اصولو څخه سرغړونه، ژبه له مشکلاتو سره مخامخ کوي او د پرمختګ مخه یې نیسي. په دې برخه کې، سیمینار ته دا استاد له خوا وړاندې شوي وړاندیزونه، د هېرولو نه دي . ده د پښتو نوی متفقه لیکدود، په روانه ژبه جوت کړی او که پاملرنه ورته وشي، زموږ ترمنځ بې ځایه سیالي او ځان لوړ ګڼل، په اوبو لاهو کولای شي.

# د کوچنیانو له پاره کیسه

# د عکس غورچاڼ

**څېړنوال محمد نبي صلاحي**

یوه ورځ، یو سړی، یو بڼ ته ولاړ، غوښتل یې، چې یو ښایسته او په زړه پورې عکس واخلي. کوترې او کاغې، چې ددغه عکاس په لاس کې، د عکاسي کمره ولیده، سملاسي په خپل منځ کې په خبرو شول او دهغه سړي په باب یې تبصرې پیل کړې.

لومړی کوترې په موسکا وویل:

وه کاغیه! ښایي چې دا سړی به ،د تا عکس واخلي!

په دې خبره کاغي ډېر وخندل او له کاغ کاغ وروسته یې، داسې ځواب ورکړ:

کوتر ګلې! ما خوارکی څه کوې. زه خو لکه اور لړونې بېخې تک توریم، د ښکلا او ښایست دعوه هم نه لرم. خو دومره پوهېږم، چې که دا سړی رښتیا هم عکس اخلي، نو بیا ښایي، چې د تا عکس به وي.ته ښه تکه سپینه یې او کله چې مستې درشي او خوشحاله یې، بیا لکه څرخندې ډېره ښه ځای پرځای تاوېږې او ډېر خوندور غومبر هم وهې. په نړۍ کې د سولې نښه او سمبول هم یې، کېدی شي، چې د تا عکس به یې منظور وي.

کوتره بیا موسکۍ شوه، ددغو خبرو له اورېدو وروسته یې داسې وویل:

کاغی ګله! په دې دنیا تر ما نور ښایسته مرغان ډېر شته، لکه د جګې ونې څښتن ډېنګ او طاووس مرغه.

کاغی: د طاووس مرغه خو یوازې کوڅرونه او لکۍ ښایسته دي، پښې یې ډېرې بدرنګې دي او ډېنګ خو لکه کوډې نا اواره اوښ داسې دی.

کوتره او کاغی په دغه مجلس لګیاوو، چې یو ناڅاپه چرګ را پیدا شو. چرګ چې د دوی خبرې ښې واورېدې، خپل ځان یې سره وڅانه او بیا یې ښه کړنګولی آذان هم وکړ. چرګ ځان دومره په زور کې ښود او ځمکې ته یې ویل، چې ته رالاندې ځه. باز هم خپلې پنجې لکه د انسان د موټې ګوتې داسې سره خلاصولې او بېرته یې سره وروستې. هغه هم خپلې ښایسته سترګې یوې او بلې خوا ته اړولې. زرک هم، خپل ځان تر نورو مرغانو ډېر په غوره کې باله او د خپلې مښوکې په ښایست یې حساب کاوه. ټپوس ویل،چې زه تر چا کم یم، بېتوتکي بیا ـ بیا دا خبره کړه، چې زما چرخولی تر چرګ او نورو مرغانو ډېر جګ دی او په ټوله نړۍ کې بل سیال نه لرم. څه سر به مو خوږوم، دوی ټولو د خپلې ښکلا او ښایست لا پې وهلې او په دې توګه یې، خپلې مښو کې په خپلو ښکو کې داسې وهلې لکه ژمنځ. خپل ځانونه یې د عکاس د کمرې مخې ته داسې تیارول ، بس تا به ویل، چې د ښایست او د ښکلا د اندام په نړیواله لوبه کې ګډون لري. په دوی کې له کاغي پرته، نورو هېڅ دا خیال نه کاوه چې، زه به یې ونه ګټم.

عکاس ددغو مرغانو تبصرې ښې واورېدې. ده ددغو مرغانو ټول حرکات، په ډېرې ځیر کۍ او هوښیارتیا سره څارل او خپله ګوته یې، د کمرې په فلش باندې نیولې وه. ګوري، چې په دې وخت کې یوه مرغۍ، نا بېره له ډېر لرې راورسیده، ډېره ستړې معلومېده، مګر خوله یې له دانې ډکه وه. د ونې په څانګه کې د ځالې خواته کښېنسته. عکاس کتل، چې دغې مرغۍ د خپلو ارکوټو په مښوکو کې، په ډېر ناز سره، یوه یوه دانه ور اچوله او هغو په بې ساري مینې سره خوړله. په دغه شېبه کې، دغه عکاس ته، ددغې مرغۍ احساس ډېر خوند ورکړ او زیات ښایسته ښکاره شو. سملاسي یې د خپلې کمرې فلش ټینګ کړ، د مرغۍ او د هغې دارکوټکو دغه حالت یې، په خپله کمره کې ثبت او یو ښکلی عکس یې واخیست. له هغه وروسته یې خپله کمره د پاډې په پوښ کې کېښوده او بیا ورو له دغه ځایه رهي شو.

په پای کې، کاغي، کوترې او نورو ټولو مرغانو، په خپل منځ کې ډېر سره وخندل او د نوموړي عکاس د ذوق ستاینه یې وکړه. له ځانوسره یې دا ټکی بیا-بیا تکراراوه، چې :

- بې شکه، منو دې! دې ته وایي، اعلی ذوق او ښه احساس. په زړه پورې، ښایسته او مینه ناک عکس!

## د رحمان بابا پسرلنۍ مشاعره جوړه شوه

د رحمان بابا د پسرلنۍ مشاعرې تر سرلیک لاندې غونډه کې د کابل ښار د رحمان بابا په لیسه کې د وري په ۱۸مه جوړه شوه. دغه غونډه چې د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت له خوا جوړه شوې وه، د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر عبدالباري جهاني، د سرحدونو او قبایلو چارو وزیر ګلاب منګل، د ملي شورا ځینو غړو، فرهنګي شخصیتونو او شاعرانو په کې ګډون کړی و. په دې غونډه کې د ولسمشر په لوستل شوي پیغام کې راغلي و: ((د رحمن بابا د پسرلنۍ مشاعرې جوړېدل، له یوې خوا د ادبي دود او عنعنې پراختیا ده، له بله پلوه د هېواد د یوه داسې نومیالي او ستر شاعر درناوی او قدرداني ده، چې خپلو خلکو او ټول بشریت ته یې د اخوت او سولې ستر پیغامونه لرل.)) د غونډې په پیل کې ګلاب منګل او عبدالباري جهاني د شعر او ادبیاتو د ارزښت او د رحمان بابا د مشاعرې په اړه خبرې وکړې. هغوی دغه ډول پروګرامونه جوړول د فرهنګ او ادب په وده کې اغېزمن وبلل. وروسته مشاعره پیل شوه چې د اطلاعاتو او فرهنګ له وزیر سربېره په کې شاعرانو خپل شعرونه ولوستل. دغه راز د ملي ثبات ټولنې له خوا د ننګرهار په سره رود ولسوالۍ کې پسرلنۍ ولسي مشاعره ، د وري په اتلسمه ترسره شوه.دغه ازاده پسرلنۍ ولسي مشاعره، د تکړه شاعر بازمحمد عابد په ښکلې غزل پیل شوه او ګڼو شاعرانو په کې د مینې او سولې د ټینګښت په اړه شعرونه ولوستل او د ګډونوالو له لوري په چکچکو بدرګه شول.

## «د روانې پېړۍ په اتیایمو کلونو کې د پښتو ژبې د پرمختیایي بهیر تحلیلي څېړنه» علمي پروژه دفاع شوه

د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنو نړیوال مرکز علمي غړي څېړندوی رحمت الله هوتک، د څېړنوالۍ علمي رتبې ته د لوړاوي په موخه، له خپلې علمي پروژې (د روانې پېړۍ په اتیایمو کلونو کې د پښتو ژبې د پرمختیایي بهیر تحلیلي څېړنه) څخه ،د وري په ۱۷مه، په بریالیتوب دفاع کړه. په دې علمي ناسته کې ګڼ شمېر پوهانو ګډون کړی و.

## د بشیراحمد ریان یادغونډه جوړه شوه

د لیکوال او ژباړونکي بشیراحمد ریان یاد غونډه، په کابل کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د مطبوعاتو په تالار کې د وري په ۱۸مه ترسره شوه. ۲۲ کلن ریان د غزني د قره باغ اوسېدونکی او د کندهار پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي محصل و، چې ۱۷ چاپ او شپږ ناچاپ آثار لري. نوموړی د ناڅرګندو وسله والو له لوري له تښتولو وروسته، څه باندې دوه میاشتې وروسته یې جسد د کندهار په سپین بولدک کې وموندل شو. په کابل کې د هغه په یاد جوړه شوې غونډه کې ویناوالو د ریان پر شخصیت، ادبي او فرهنګي هڅو خبرې وکړې او له حکومته یې وغوښتل، چې د ریان د وژل کېدو په اړه څېړنې وکړي او پایلې یې له خلکو سره شریکې کړي.

## د سمسور لغمان دودیزه پسرلنۍ مشاعره جوړه شوه

د لغمان په مرکز مهترلام ښار کې د سمسور لغمان دودیزه پسرلنۍ مشاعره د وري په ۱۹مه وشوه، چې د ځینو چارواکو ترڅنګ لسګونو شاعرانو او فرهنګیانو په کې برخه اخیستې وه. لومړی د والي په ګډون ویناوالو د شعر، شاعرۍ او لیکوالۍ په ارزښت خبرې وکړې، وروسته د شعر او ترنم لړۍ پیل شوه، ځینو خپل او یو شمېر نورو بیا انتخاب شوي شعرونه ګډونوالو ته وړاندې کړل.

## استاد بایزید اڅک وفات شو

د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي، د پښتو ژبې او ادب څانګې استاد بایزید اڅک، د وروپښې شوې ناروغۍ له امله د وري په ۲۵مه، وفات شو. نوموړی د وري په ۲۶مه په کابل ښار کې خاورو ته وسپارل شو. استاد اڅک، د اوسنۍ ژبپوهنې مسلکي استاد و، د هند له جواهر لعل نهرو پوهنتون نه یې، په ژبپوهنه کې ماسټري اخیستې وه او د همدې پوهنتون د لومړني پښتو استاد په توګه یې، دنده هم ترسره کړې وه.

## ننګرهار کې د استاد محمد اصف صمیم نمانځنه وشوه

د پښتو ژبې د ادیب او لیکوال استاد محمد اصف صمیم نمانځنه ،د قلم ښوونیز او فرهنګي مرکز له لوري د ننګرهار په کامې ولسوالۍ کې د وري په ۲۶مه ترسره شوه، چې د شعر او ادب د مینه والو ترڅنګ په کې، د پوهنتون استادانو او ګڼو فرهنګیانو برخه اخیستې وه. په دې غونډه کې ویناوالو د استاد صمیم پر شخصیت، پښتو ژبې او ادب ته د هغه د خدمتونو په اړه خبرې وکړې او له نوموړي غوښتنه وشوه، چې خپل ناچاپ آثار چاپ کړي.

چهارشنبه ▣ ۱ – ۲ مه ګڼه ▣ دریمه دوره ▣ پرله پسې ۲۴۹ – ۲۵۰ مه ګڼه ▣ ۱۳۹۵ لمریز کال د وري (حمل) ۲۵ مه ▣ ۱۴۳۷ هـ ق کال د رجب المرجب ۵ مه ▣ ۲۰۱٦ زېږدیز کال د اپریل ۱۳ مه ▣ ۴ مخ

زېری
پنځلس ورځنۍ جریده
د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

د کتونکې ډلې تر څارنې لاندې
مسوول مدیر: څېړنوال محمدنبي صلاحي
مهتمم: څېړندوی عبدالاحد منګل
کمپوز او ډیزاین: م. ص.
zerai1316@gmail.com
facebook.com/Zeerai1316
۰۷۹۹۸٦۱۲۹۹

د افغانســـــتان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکـــز خپرنیز ارګان
د یوې ګڼې بیه: پنځه افغانۍ
پته: د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز،
زنبق څلورلارې، نوی ښار،
افغانستان _ کابل
په زېري جریده کې له سرلیکنې پرته، د نورو لیکنو سپیناوی، په خپله د لیکوالو په غاړه دی.

# پښتو ته څنګه وده ورکړو ؟

څېړنپوه محمد عارف غروال

ژبه یوه داسې ټولنیزه پدیده ده، چې د بشریت له پیدایښت سره یو ځای پیدا شوې او د بشر له ژوندانه سره موازي تر دې دمه را رسېدلې او تر هغه وخته پورې به، د یوې اجتماعي مؤسسې او ښکارندې په توګه دوام ولري، تر څو پورې، چې د ځمکې پر مخ انساني ژوند موجود وي. ژبو د بېلابېلو انساني ټولنو په منځ کې وده کړې، پراختیا یې موندلې او د پرمختګ او په شاتګ پړاوونه یې وهلي دي.

د علمي څېړنو له مخې، ژبه ډېر لرغونی او ځنډن تاریخ لري. په اصل کې ، ژبه د بشري ژوند د پرمختګ او د تمدن د پراختیا او پرمختیا یوه مؤسسه ده. د ژبې په وسیله، بشریت د تمدن او پوهې لوړو پوړیو ته ځان رسولی شي. کهڅه هم، ژبه د انسانانو تر منځ، د پوهولو او را پوهولو یوه ذریعه ده، خو په عامه توګه ، همدا ژبه ده، چې انسان ته یې لوړ مقام ور په برخه کړی او له نورو حیواناتو څخه یې ممتاز ګرځولی دی.

دا چې یوه ژبه څنګه وده او پراختیا موندی شي، دا نو د هغې ژبې د ویونکو په استعداد، ځیرکتیا او خوځښت پورې اړه لري. د کومې ژبې نوموړې په داډ سره دا ویلای شو، چې هغه ژبه، د پرمختللې او بډای ژبې په توګه، د نړۍ د نورو بډایو او پرمختللو ژبو په کتار کې شمېرل کېدای شي، چې ژوندي مثالونه یې، همدا اوس د نړۍ په ګوټ ګوټ کې تر سترګو کېږي.

پښتو ژبه هم، د نړۍ له هغو ژبو څخه یوه ژبه ده، چې ډېر لرغونی او ځنډن تاریخ لري. که څه هم په پښتو ژبه یو زیات شمېر ګټور او د استفادې وړ آثار موجود دي، خو هغومره نه دي، لکه د نړۍ په نورو شتمنو او بډای ژبو کې، چې موندل کېږي. نو زما په نظر، که چیرې پښتانه لیکوال او څېړونکي، په ځانګړې توګه ژباړونکي، له نورو ژبو څخه، هغه آثار او کتابونه، خپلې ژبې پښتو ته راوژباړي، چې زموږ د خلکو د ورځني ژوند علمي غوښتنو ته ځواب وویلی شي، نو دا به له یوې خوا ، د پښتو ژبې له علمي غنامندي سره مرسته وکړي او له بله پلوه به، پښتو ته هغه علمي مقام ور په برخه شي، چې د نړۍ ځینې نورې ژبې ورڅخه برخمنې دي.

د پښتو ژبې ودې او پرمختیا ته، چې زموږ پخوانیو پوهـانو او استادانو، کـوم علمي پوهانو پر کړیو کارونو او خدمتونو بسنه ونه کړو، بلکې د هغوی پر پلونو قدمونه کېږدو او هغه چارې تر سره کړو، چې هغوی په خپل ژوندانه کې، د هغو د تر سره کولو هوډ درلود. په تېره بیا ،دا زموږ د وخت د لیکوالـو او څېړونکـو ملي مسوولیت دی، چې خپلو راتلونکو نسلونو ته، هغه څه په میراث پرېږدي، لکه موږ ته چې خپلو پخوانیو استادانو او پوهانو په میراث پرایښي دي. د یوې ژبې خدمت او هغې ته وده ورکول، د یوه او یا څو کسانو کار نه دی، بلکې هر افغان لیکوال، ادیب او ژباړونکی وظیفه لري، چې دې درانه کار ته مټ ورکړي. موږ د زېري جریدې له مسؤول چلوونکي څخه له دې امله مننه کوو، چې دې درانه مسوولیت ته یې د لیکوالانو، ادیبانو او ژباړونکو پام را اړولای دی او د یوې غوره طرحې په توګه یې (پښتو ته څنګه وده ورکړو؟ ) خپلو هېوادوالو ته وړاندې کړه. زه د دې اوونیزې د لوستونکي او د کتنپلاوي د غړي په توګه، بیا هم پر دې ټینګار کوم، چې دغه دروند بار یو یا څو کسه نه شي پورته کولای، بلکې هر عالم، ادیب، څېړونکی او ژباړونکی دنده لري، چې دغه

# د ادبي او فرهنګي خبرونو کرونولوژي

څېړندوی محمد اصف احمدزی

## د "اسهل التفاسیر" پښتو تفسیر چاپ شو

"اسهل التفاسیر" په دوو ټوکونو کې د دیني عالم شیخ سمیع الله نجیب الله، له خوا په پښتو ژبه لیکل شوی او تازه د جامعة الامام محمد بن اسماعیل البخاري له لوري په ابوزید پرتهرز محله جنګي قصه خوانۍ پېښور کې چاپ او خپور شوی دی. د دې تفسیر لومړی ټوک ۱۰۴۰ او دوهم یې ۱۲۹۱ مخونه لري، چې لومړی د یوه ایت ترجمه راغلې او ورپسې یې په تفصیلي ډول تفسیر شوی دی.

## پټه خزانه په رنګینه بڼه چاپ شوه

د پښتو ژبې تاریخي تذکره "پټه خزانه" په لومړي ځل په رنګینه بڼه د پښتو نړیوالې مرکې له خوا د محمد صادق ژړک په زیار او د لوګر د والي حلیم فدایي په مالي مرسته چاپ شوه. په دې کتاب کې ۱۲ رنګین انځورونه هم په لومبي ځل چاپ شوي دي.

## لومړی لاتیني پښتو قاموس انلاین شو

د قاموسونه ټکي کام انټرنټي پروژې، د مورنیو ژبو د نړیوالې ورځې په ویاړ یو لاتیني پښتو قاموس آنلاین کړی دی. دا د پښتو ژبې له پاره لومړی لاتیني قاموس دی چې ۲۷ زره لاتیني لغتونه په کې په پښتو ژباړل شوي دي. دا چې لاتیني د ټولو اروپایي ژبو د زده کړې له پاره مهمه ده، نو دغه تازه انلاین شوی لاتیني پښتو قاموس، چې لا تر اوسه امتحاني بڼه لري، هیله ده شته تشه به تر یوې اندازې ډکه کړي. (سرچینه: ahmadwali.achakzai.com)

## د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د علي محمد مخلص دېوان چاپ کړ

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د بیهقي خپرونو ریاست د پښتو ژبې د کلاسیکې شاعرۍ د مطرح شاعر علي محمد مخلص دېوان چاپ کړ. په ۷۳۷ پاڼو کې د دغه دېوان د اوډنې، مقابلې، سریزې، لمنلیکونو، لغوي زېرمې او زیاتونوزیار، محمد هارون خپل شعشعي ګاللی دی. د دې وزارت د ۱۵۹ کتاب په توګه دا دېوان ، د زرو ټوکو په شمېر چاپ شوی دی. (تاند وېبپاڼه)

## ولسمشر ۲۲ علمي شخصیتونو ته، د علامه سید جمال الدین افغان عالي دولتي نښانونه ورکړل

ولسمشر محمد اشرف غني د نوي کال په مناسبت، ۲۲ نومیالیو لیکوالو، شاعرانو او د ادب او فرهنګ

ویونکي، چې په خپلو علمي لیکنو او څېړنیزو پنځونو سره مهم او ګټور آثار، یا په خپله ولیکي او یا یې له نورو ژبو څخه خپلې ژبې ته راوژباړي، خدمتونه کړي دي، زموږ نسل او زموږ راتلونکي نسلونه به، د دوی دغه علمي خدمتونه هېر نه کړي، خو موږ باید، د خپلو دغو استادانو او درونو مسوولیت احساس کړي او بیا خپله وظیفه وبولي، چې دغه مسوولیت به د یوې ملي وجیبې په توګه سر ته رسوي.

## د پښتو ژبې او ادبیاتو اوسنۍ ستونزې څه دي او د هغو د اوارې لارې چارې کومې دي؟!

له درنو لوستونکو نه، د تېر په څېر، یو ځل بیا، په ډېر درنښت سره هیله کېږي، چې د پورتنۍ موضوع په اړه مضمون را ته ولیکي، که دا مقاله کوچنۍ هم وي، خو چې دقیقه او علمي وي، "زېری" یې په ورین تندي مني.

# غزل

**سمیع الله غروال**

زما خوبونو ته جانانه چې تعبیر جوړ شوې
د عشق پر ورکو لارو ما ته سپین مسیر جوړ شوې
اوس هر غزل ته مې ستا سترګو نه الهام اخلم
چې یو ناڅاپه مې شعرونو ته تصویر جوړ شوې
چې مې له زړه ځنې راوځي بې معنا ښکاریږي
هغو الفاظو ته جانانه ته تاثیر جوړ شوې
زړګی زما دی او حکومت جانانه ته پرې کوې
زما د زړه په سلطنت باندې جاګیر جوړ شوې
نوره څه تمه د ژوندون را سره نه وه اشنا
چې یو ناڅاپه مې تقدیر لره تدبیر جوړ شوې
نور به دې نه پرېږدم سکون زما له تا سره دی
اوس مې د ژوند دارمانونو لوی تفسیر جوړ شوې
زما د زړه له جیلخانې نه اوس وتلی نه شې
(غرواله) خپله را له راغلې اوس اسیر جوړ شوې

څېړونکو ته د دوی د خدمتونو د قدرداني په خاطر د وري په لومړۍ نېټه، د علامه سید جمال الدین افغان عالي دولتي نښانونه ورکړل. په دې اړه په ارګ کې په جوړه شوې غونډه کې د هېواد د بېلابېلو ولایتونو لیکوالو، شاعرانو، د ادب او فرهنګ څېړونکو او استادانو ګډون درلود، چې پوهاند ډاکټر محمدحسین یمین د نورو په استازیتوب د ادبیاتو، ملي فرهنګ او په ځانګړي ډول د نوروزو د ملي جشن په اړه خبرې وکړې. ولسمشر غني په دې غونډه کې ګډونوالو ته په خطاب کې وویل: "تاسو د افغانستان د فرهنګ تولیدوونکي یاست او په سختو شرایطو کې مو د متحرک او ملي فرهنګ د ودې او بډاینې په برخه کې ارزښتناک خدمتونه کړي دي." د هغه په وینا، د فرهنګ، قلمي او لرغونو آثارو د ودې لپاره به یو صندوق رامنځته شي. د یادولو ده، چې په یادو ۲۲ کسانو کې د علومو اکاډمۍ درې تنه علمي، هر یو څېړنپوه محمدعارف غروال، څېړنوال ظاهر شکیب او څېړنوال عبدالقیوم مشوانی هم شامل وو.

## په لندن کې ادبي ناسته ترسره شوه

د انګلستان په پلازمېنې لندن ښار کې د ۱۳۹۵ کال په لومړۍ ورځ ادبي ناسته ترسره شوه. دغه غونډه چې د لیکوال عبدالوکیل سوله مل په کور کې جوړه شوې وه، په کې د اکبر کرګر د دوو اثرونو "تور تمه روایت دی" او د مقالو د ټولګې "فرهنګي بحثونه" مخکتنه وشوه. د غونډې برخه والو د نوموړي پر دې کتابونو او په ځانګړي ډول د هغه په لنډو کیسو خبرې وکړې. "تور تمه روایت دی" د کارګر اوومه کیسه ییزه ټولګه ده چې شل کیسې په کې راغلې دي.

## په میوند کې پسرلنۍ مشاعره جوړه شوه

د کندهار په میوند ولسوالۍ کې د میوند ملالۍ ادبي ټولنې له خوا پسرلنۍ مشاعره، د وري په شپږمه ترسره شوه. په دې مشاعره کې شاعرانو په خپلو شعرونو کې مینې، یووالي، ورورولۍ او په ټوله کې له روانو حالاتو څخه په اغېزمنتیا شعرونه وویل. دغه راز طنزي شعرونه هم په کې وویل شول، چې ګډونوال یې وېښ کړل او پر چکچکو یې راوستل. د میوند ملالۍ ادبي ټولنې مشر نسیم میوندوال وایي، دغه مشاعره یې د دې لپاره جوړه کړې، چې په جنګ کې ښکېلو غاړو ته د سولې کولو پیغام ورسوي، چې په هېواد کې روانو ناخوالو ته د پای ټکی کېښودل شي. دې ټولنې تر دې وړاندې هم ورته مشاعرې جوړې کړې دي. (سرچینه: تاند وېبپاڼه)

## د لیکوال او شاعر عبد الله صداقت ویاړغونډه او پسرلنۍ مشاعره جوړه شوه

په لغمان کې د دانش فرهنګي مرکز له خوا د لیکوال او شاعر عبدالله صداقت په ویاړ غونډه د وري په پنځمه جوړه شوه، چې د هېواد له بېلابېلو سیمو او پښتونخوا نه راغلو لیکوالو، ادیبانو او فرهنګیانو په کې ګډون کړی وو. په غونډه کې، د صداقت پر ادبي او ټولنیز ژوند، د ده د نږدې ملګرو او لیکوالو له لوري مقالې او خاطرې ولوستل شوې. تر دې غونډې وروسته، پسرلنۍ مشاعره وشوه، چې شاعرانو په کې خپل په زړه پورې شعرونه ګډونوالو ته واورول.

## د نارنج ګل مشاعره ترسره شوه

جلال اباد ښار د وري په شپږمه د نارنج ګل د دودیزې مېلې او مشاعرې کوربه و، چې په ګڼ شمېر هېوادوالو سربېره په کې، د پښتونخوا ځینو لیکوالو او شاعرانو هم برخه اخیستې وه.

پیل له مېلې وشو، چې پرانیسته یې د ننګرهار والي او نورو وربلل شوو فرهنګیانو له لوري وشوه. په دې مېله کې سندرې، ټنګ ټکور او تمثیلي ټوټې وړاندې شوې او بیا ځینې لاسي صنایع نندارې ته کېښودل شول. د نارنج ګل په دغه دودیزه مېله کې د بېلابېلو کورنیو توکو، ننداري ته د ایښودلو ترڅنګ د کوچیانو کېږدۍ او اوښ هغه څه وو، چې د مېلې بڼه یې لا ښکلې کړه او نندارچیان یې خپلې مخینې ته بوتلل. په تېرو څو کلونو کې، چې د نارنج ګل مېلې او مشاعرې په جلال اباد شاهي مانۍ کې ترسره کېدې، د ډېرو فرهنګیانو او لیکوالو غبرګونونه یې هم له ځانه سره لرل، خو دا ځل په ښېرزي

درېیم مخ